واحد فقيري ۲۰۱۶/۰۲/۲۷

# له کندهاره و کابل ته د مغزي فرار تاريخي پروسه (۱۷۷۳-۱۹۹۰)

دريمه برخه

## له کندهاره و کابل ته د نوي مغزي فرار څپه(۱۹۵۰ – ۱۹۷۰):

د دوهم جهاني جنګ را وروسته د شاه محمود خان په دوره کي (۱۹۴۶-۱۹۵۳)، سلطنت د ملي او بين المللي شرايطو او ايجاباتو له تقاضاوو سره سم په خپل سياسي نظام کي يو لړ نسبي سياسي اصلاحات معرفي کړل. په دې اصلاحاتو کي، څه نسبي د بيان آزادي، د سياسي اجتماعاتو څه تحمل، د سياسي بنديانو خوشي کول او د نادر خان – هاشم خان د ظلمونو او قتلونو د تلافي کولو له پاره هڅې شاملي وې.
بلخوا، په کابل کي په ۱۹۳۲ کي د پوهنتون تاسيسېدل، د ۱۹۴۰ په سر کي د کندهاري محصلينو تعداد کرار کرار پيل سو. په پوهنتون کي، لومړي کندهاري محصلين لکه فيض محمد انګار، عبدالرحيم هاتف، عزيزالله واصفي، محمد نبي خان، محمد ولي ځلمي، عبدالعزيز فقيري، محمد نادر ايوبي، کاکا رازق، لالا واسع، ډاکټر رنځور يار، فريد خان، او نور شامل ول.
همدې نسبي آزادي په افغانستان کي د نوو احزابو د تاسيس له پاره لاره خلاصه کړه. د ۱۹۴۰ په کلونو کي، د وېښ زلميانو مفکوره هم په ځينو کندهاري منورينو کي را پيدا سوه، څو بالاخره په ۱۹۴۷ کي د وېښ زلميانو حزب تاسيس سو. په کندهار کي، د وېښ زلميانو له مشهورو مشرانو څخه عبدالروف بېنوا، فيض محمد انګار، عبدالشکور رشاد، محمد ابراهيم خواخوږی، محمد علم بڅرکی، عبدالهادي خان توخی، محمد رسول پښتون، غلام جيلاني خان او يو لړ نور داسي کندهاري منورين، ليکوالان، او نخبه ګان ول چي ځيني ئې د شلمي پېړی په جريان کي د کابل پوهنتون نامتو استادان، سکالران، او ليکوالان سول.
خو د محمد داود د صدرات (۱۹۵۳-۱۹۶۳) له شروع کېدو سره سم، د وېښ زلميانو زياتره کندهاري غړي بنديان سول او کابل ته واستول سول. له همدې ډلې څخه بېنوا، خواخوږی، حبيبي او رشاد په کابل کي پاته سول. د هغوی اولادونه، چي اکثره ئې د عالي تحصيلاتو خاوندان دي، قريب ټول په کابل کي پاته سول او د ۱۹۸۰ په کلونو کي د غرب په ملکونو کي مهاجر سول. دغه راز، د نورو مشهورو کندهاري وېښ زلميانو تحصيل کرده او مسلکي زامن او لوڼي هم زياتره د ۱۹۶۰ او ۱۹۷۰ په کلونو کي کابل ته کډه سول.
اما هغو کندهاري نخبه ګانو چي په کابل کي پوهنتون ووايه، هغوی برعکس اکثره بېرته کندهار ته راغلل، څو بالاخره د ۱۹۸۰ په کلونو کي مجبورا کابل او نورو ملکونو ته وکوچېدل.
په کابل کي د پوهنتون او راډيو د پرانيستلو سره سم، د ۱۹۳۰، ۱۹۴۰، او ۱۹۵۰په لسيزو کي له کندهاره و کابل ته د همدې مغزي فرار پروسه تدريجا چټکه کېده. په همدې کلونو کي، زيات شمېر کندهاري منورين، ليکوالان، د عصري تحصيلاتو ځوان او لايق ځېرې، با استعداده علمي او مسلکي کدرونه، هنري استعدادونه او حتی په خصوصي سکتور کي د کندهار د ښاري بورژوا د طبقې بسته فاميلونه وکوچېدل.
همدارنګه، په کندهار کي د وېښ زلميانو پر خلاف د ۱۹۵۰ تصفيه کاريو ځيني کندهاري ښاري ځوانان دېته اړ ايستل چي کابل ته ولاړ سي. حتي ځيني خو د وېښ زلميانو د غړيتوب په نا حقه تهمت کابل ته جزايي واستول سول. په همدې وخت کي، ډارن سلطنت د همدې سياسي تصفيې له پاره عبدالغني خان قلعه بيګی د کندهار د والي حيث مقرره کړ او عبدالرحيم خان د ولايت د معارفو د ريس په توګه په کندهار کي مقرره سو. دواړو د دولت د سياسي مخالفانو په زهيرولو او ځپلو کي خاص شهرت لاره (هاتف ۱۵-۱۸). دغه راز، محمد ابراهيم خواخوږی هم په کابل کي «په اوسېدلو مجبور سو» (ځلمی، ۳۳۶).

## له پاکستان سره جنجال (۱۹۵۰ - ۱۹۷۰):


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولئ

دغه راز د ۱۹۵۰، ۱۹۶۰، او ۱۹۷۰ په لسیزو کې، له پاکستان سره د افغان حکومت دوامداره ټکر او جنجال د کندهار، تجار، بزنسي شبکې او په مجموع کې خصوصي سکتور او ملي بورژوازي سخت تاواني کړل. د پاکستان سره همدې مزمن تقابل حتی د کندهار بزګران او فیوډالان هم نقصاني کړل. د کندهار تجارو او ملي بورژوازي له پاره دننه په ښار کې د ګټورې پانګونې او انکشاف فرصتونه بېخي کم سول. په تجارانو کې، پر سیاسي اوضاع باندي بې اعتمادي ډېره سوه. لنډه دا چې هر هغه تحصیل کړده کندهاري ځوان/ځواني چې کار او کریير غوښت، په کندهار کې د هغوی له پاره فرصت او زمینه نه وه برابره. هغوی مجبوره ول چې کابل او یا خارج ته فرار وکړي.
د افغانستان او پاکستان تر مینځ د پښتونستان پر سر لانجه په ۱۹۵۰ او ۱۹۶۰ کې څو ځله د افغانستان او پاکستان سرحدونه وتړل. د افغانستان اقتصادي مجازاتو او د افغان تجارو د تاواني کولو په غرض به پاکستان د افغان تجارو له پاره د ټرانزیټ په برخه کې راز راز مشکلات خلقول. د سرحد بندېدل به د افغانانو مالونه وراسته او یا تر وخت تېر کړل، په تېره بیا د تازه مېوو کار و بار سخت زیانونه وګالل. کله به پاکستان د افغان صادراتو او وارداتو له پاره په کافي اندازه د ټرین ګاډي نه برابرولې او په دې ترتیب به د افغان تجارو سامان آلات د پاکستان په بندرونو کې معطل او پالتو پراته ول. او کله به بیا د پاکستان عمدي ځنډ د افغان سوداګرو مالونه داغي او خراب کړ (دوپري، مخونه ۴۸۵-۴۹۱).
بلخوا، په ۱۹۷۰ کې د ۱۹۴۰، ۱۹۵۰ او ۱۹۶۰ د لسیزو بر عکس په کندهار کې د خصوصي شرکتونونو او کمپنیانو رکود او زوال هم تسریع سو. خصوصي شرکتونونه لکه پښتون شرکت، وطن شرکت، زرغون شرکت، ویسا شرکت، د مېوې شرکت او داسې نور خصوصي شرکتونه، کمپنیاني او تجارتي شبکې ورځ په ورځ کمېدلې. د کندهار د ښار په خصوصي سکتور کې د ځوانو تحصیل کړده ګانو له پاره کارونه په محسوسه توګه لږېدل.
د ۱۹۶۰ او ۱۹۷۰ په کلونو کې، زیات شمېر کندهاري ځوانان په کابل پوهنتون کې محصلین ول. اکثره په پوهنتون کې ښه ځلېدل، لایق او د سیاسي شعور خاوندان ځوان ول. په دې وخت کې، په کندهاري ځوانانو او محصلینو کې ملي، مترقي او چپي مفکورو زیات پلویان لرل. کله چې په ۱۹۶۰ کې سلطنت یوه نیم بنده دیموکراسي اعلان کړه، اکثره همدا ځوانان د وخت په سیاسي احزابو کې فعاله ونډه لرله. د احزابو د تشکیل سره سم، د کندهار مکتبي او ښاري ځوانان هم سمدستي په مختلف احزابو کې څه منظم سول.
د ۱۹۷۰ په کلونو کې، د کندهار نفوس څه د پاسه یو لک دیرش رزه و. د کندهار په ښار کې، شپږ د هلکانو لیسې او دوې د نجونو لیسې فعاله وې. په هر حال په دې کلونو کې، په زرهاوو هلکان او نجونې له مکتبونو څخه فارغېدل. حال دا چې په ۱۹۷۰ کې د هرات ښار یوازې دوې د هلکانو لیسې (جامي او سلطان) او یوه د نجونو لسیه لرله. د محمد داود خان د جمهوریت په دوره کې، د کندهار ښار د مدنیت او تنور له لحاظه تر کابل راوروسته په وطن کې دوهم مقام لاره. د ببنوا صاحب په (اوسني لیکوال) کتاب کې، له ۲۲۹ لیکوالانو له جملې څخه قریب ۶۰ تنه کندهاریان دي چې د کل ۲۵٪ فیصده تشکیلوي، حال دا چې ځو تنه له قلمه پاته سوي دي د دې عصر اکثره تحصیل کړده کندهاریان د ۱۹۸۰ او ۱۹۹۰ په لسیزو کې له کندهار او کابل څخه د خارجي ملکونو په لور مهاجرت ته اړ سول. د دې دورې ډېر غړی نن سبا په امریکا، کاناډا، اروپا، هند، پاکستان، او نورو ملکونو کې ژوند کوي.
دغه راز، د ۱۹۵۰ او ۱۹۶۰ په لسیزو کې، اکثره امریکایي انکشافي پروژې تکمیل سوې او حکومت د نویو پروژو د عملي کولو له پاره کوم لوی پروګرام نه لاره. د امریکایي پروژو بندېدل په کندهار کې زیات با استعداده ځوانان، مسلکي کارګران او عام خلګ بېکاره کړل. په ۱۹۵۳ کې، کجکي د بند کار خلاص سو او په ۱۹۶۲ کې د کندهار د میدان د جوړولو پروسه هم تکمیله سوه. په همدې امریکایي پروژو پورې مربوطو امریکایي او خارجي اتباعو په کندهار کې دفترونه او کورونه لرل. یوازې د ۱۹۵۹ د بلوا په کال کې، قریب ۴۵ امریکایان او ۳۵ تنه فلپیانیان د کندهار د ښار په مختلفو محلو او کورونو کې د عادي ښاریانو غوندي اوسېدل. همدې امریکایي پروژو په ښار کې کورونه او نور تعمیرات کرایه کړي ول (فرید میوندي). په همدې لسیزو کې، امریکایي انکشافي پروژې نهایت ګټوري وې، خو متاسفانه امریکایانو همدا شان پروژې د خپل ۱۵ کلن نظامي مداخلې په جریان کې عملي نه کړې، حتی هغه پخوانی ئې ترمیم هم نه کړې.
د ۱۹۷۰ د لسیزې په جریان کې په کندهار کې، د ښاري ځوانانو له پاره کاري او تحصیلي آسانتیاوې په هیڅ کې حسابېدلې. کندهار نه پوهنتون لاره چې خپل با استعداده ځوانان له فراره را وګرځوي، نه ئې د عالي تحصیلاتو نور داسې موسسات لرل چې خپلو پخو علمي کدرونو ته په ښار کې دننه د کار او تدریس فرصت برابر کړي. نه ئې هم راډیو، تیلویزیون، او تیاتر درلود چې و خپل با استعداده ځوانو کدرونو ته د کار، د ځان د تبارز او فرهنګي بربښ زمینه برابر کړي. او نه ئې هم د ژبې د تقویې له پاره داسې فرهنګي تحقیقاتي موسسات لرل چې و خپلو فرهنګي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

هستيو او وتلو ليکوالانو ته په خپل پلرني ښار کي د کار او خدمت زمينه برابره کړي. حتی هغه يو و ينم مدني او فرهنګي موسسات چي کندهاريانو په خپله جوړ کړي ول، هغه هم کابل ته انتقال سول.
د کلونو په تېرېدو سره، همدې اقتصادي او معنوي رکود او زوال کراړ کراړ د کندهار ښار ځېره او جوړښت ور بدل کړ. د ښار په هوټلونو کي، د سياسي ګرادونو جوړونکي فرهنګي دود ورو-ورو ېبخي ورک سو. د سياسي ګرداوونو بارز او وتلي محوروونه او محرک شخصيتونه څه د داودخان استبداد وځپل او څه نور و کابل ته ولاړل. باقي پاته يا ېبخي سپين ږيري سوي ول او يا هم وفات سوي ول
.

## د کاملي تباهي لسيزي (۱۹۸۰ - ۱۹۹۰):

د ۱۹۸۰ په کلونو کي يعني د کمونستانو په دوران کي، د کندهار ښار او ښاري طبقي داسي نه جبرانېدونکي صدمي وليدلي چي کندهار په خپل ګرده معاصر تاريخ کي د ۱۹۸۰ لسيزي غوندي له هر اړخيز تخريب او بربادي سره نه و مخامخ سوی. د شوروي متجاوزو قواوو او د هغوی بومي خلقي – پرچمي مزدورانو د کندهار په تخريب او تباهي کي خپل پوره کوښښ وکړ. په افغانستان کي، د امريکايي قواو ستر قومندان جنرال مک کرسټل په دي باب په خپل کتاب کي داسي کاږي: په ۱۹۸۶ کي، شورويانو د کندهار د تاريخي ښار د اېلولو نيت وکړ. شورويانو و خپل هدف ته د رسېدو په منظور د کندهار ښار او اطراف بې امانه بمباري کړل. د شوروي عسکرو به د شپې غبټ او روښانه پانوسونه د ښار په مختلفو ګوټونو کي وغورځول او بمباري به ئي شروع کړه. په ۱۹۷۸ کي، شورويانو د کندهار ښار بشپړ خراب او سټ کړ (مک کرسټل، مخ ۳۸۱).
په بل عبارت، د ۱۹۸۰ او ۱۹۹۰ لسيزي د غم، مهاجرت او د نه بيانېدونکي ظلم او وحشت زماني وي. په يوه کلام کي، د ۱۹۸۰ او ۱۹۹۰ لسيزي ښايي د کندهار په ټول تاريخ کي د فرهنګي او اقتصادي سقوط په ارتباط تر ټولو بدي لسيزي حساب سي. د ۱۹۸۰ په کلونو کي، د شورويانو پر خلاف جهاد او مبارزه همدا مغزي فرار لا ګړندی کړ او په نتيجه کي د کندهار د مدني او ښاري ټولنو ملا ماته سوه. و کابل ته د تګ تر څنګ، د کندهار د ښاري طبقي غړي او بسته کورنۍ بهر ته د مهاجرو د ځپو سره ملګري سول او سربسته فاميلونه و پاکستان، ايران، غرب او نورو ملکونو ته مهاجر سول.
د ۱۹۸۰ او ۱۹۹۰ په لسيزو کي په ښار کي، د عصريت او مدنيت سره ښکاره مخالفت يو ډول سياسي موډ وګرځېد. ملايان او جهادي قومندانان په سياسي مشرانو باندي بدل سول. د کندهار د سياسي قدرت پخوانی انډول او جوړښت کاملا خراب سو. سياسي وفاداري عوض سوه.
د ۱۹۹۰ په لسيزه کي، د مجاهدينو او طالبانو په حکومتونو کي د کندهار ښاري ژوند او مدنيت له مطلق سقوط سره مخامخ سو. کندهار په جهان کي بد معرفي سو. په بين المللي اذهانو کي، د کندهار نوم د مجاهدينو او طالبانو له تورو کارنامو سره جوخت سو.
په بين المللي اذهانو کي، د کندهار د بد معرفي کولو پروسه و دې حد ته ورسېده چي په کندهار کي د مجاهدينو او طالبانو د دورانونو دوه پاخه او دقيق خارجي محققين او د (يو دښمن چي موږ خلق کړ) د کتاب با معلوماته ليکوالان د کندهار و فکري او فرهنګي ميراث ته په داسي ساده شکل ګوري چي توقع ئي له داسي زبردستو ليکوالانو څخه نه کېږي، ځکه دواړو قابلو ليکوالانو خو کاله په کندهار کي ژوند کړی دی (لينشوتن او کيوهن، مخ- ۱۳). هغوی په دې تاريخي ښار کي يوازي د مجاهدينو او طالبانو رېښي ځېړلي دي او نور هر څه ئي هېر کړي دي.
په همدې لړ کي، حتی د کندهار د سياسي مسايلو دقيقه او با تجربه امريکايي ليکواله سرا چېس په خپل جالب کتاب (د تقوا مجازات) کي د پېړيو په بهير کي د کندهار د تجارتي، ترانزيتي، سياسي او ستراتيژيک اهميت په باب يو ځانګړی فصل ليکي. د کندهار د تاريخ په باب جالبي او نوي خبري کوي، خو د کندهار د فکري او فرهنګي تاريخ په اړه حتی اشاره قدري هم نه کوي. د سرا چېس او هغو نورو غربي ليکوالانو، چي په کندهار کي ئي کلونه کلونه ژوند او تحقيق کړي دي، اشتباه دا ده چي د هغوی محلي مشاورينو او ځايي تحقيقاتي مخبرانو، البته د شخصي اغراضو او يا هم د مطلقي ناپوهۍ په خاطر، غلط معلومات ور کړي دي. په نتيجه کي د ليکوال تحليل او درک سست، ساده او يو اړخيز سوی دی.
خو تاريخي واقعيت دا دی چي د کندهار په اقلا ۵۰۰ کلن سياسي تاريخ کي دا لومړی ځل و چي ملايان او طالبان سياسي قدرت ته ورسېدل او همدا سياسي بدعت د کندهار د مدنيت او ښاريانو له پاره ډېر ګران تمام سو او څو نسله پر له پسي ضايع او تباه سول. البته په دې کي شک نه سته چي په مختلفو تاريخي دورو کي مذهبي علماوو او ملايانو


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولئ

د پردیو په مقابل کي د افغانستان په ساتنه کي مهم رول لوبولی دی، خو هیڅکله ئې سیاسي مشري نه وه کړې. خو د روسانو پر ضد د جهاد په دوران کي یو لړ خارجي قوتونه د ملایانو او مذهبي مشرانو په قدرت رسولو کي ډېر موثر واقع سول.

## امریکایي دوران (۲۰۰۱ – ۲۰۱۶):

د طالبانو له سقوط سره سم (۲۰۰۱)، یو ځل بیا ځیني تحصیل کړده کندهاریان د خپل مورني ښار په لور و خوځېدل. په عمومي توګه، په دې وخت کي په خلګو کي یو ډول خوشبیني ایجاده سوې وه. خلګ د ښه او امن مستقبل د راتګ هیله من ول. ځیني کندهاریان حتی له امریکا او اروپا څخه بېرته کندهار ته کډه سول، خو له بده مرغه دا خوشبیني ډېره لنډه وه، ځکه کندهاریانو په خپلو سترګو ولیدل چي د امریکا په ډالرو مست نوي وارلاډان هغه پخواني فراري ټوپکیان دي چي د طالبانو له ډاره په کوټه، پېښور او نورو ملکونو کي پټ او خپ ناست ول. په بل عبارت، امریکا هغه مافیایي سیاسي کړۍ بېرته راژوندۍ کړه چي د ۱۹۸۰ او ۱۹۹۰ په کلونو کي د اوږده جنګ او انارشي په بطن کي حاکمه سوې وه او د کندهار په فکري او اقتصادي تباهۍ کي ئې پوره لاس درلود.
د امریکا او جنګسالارانو تر مینځ دې ناروا ایتلاف، سمدستي د کندهار اګاه او درد من خلګ اندېښمن کړل، ځکه هغوی پوهېدل چي په داسي خلګو باندي د افغانستان باثباتول او آبادول یو خوب او خیال دی. د همدې وارلاډانو ظلم او بد حکومت و چي د افغانستان خلګو په لومړیو میاشتو او کلونو کي د طالبانو د راتګ نسبي هرکلی وکړ. خو کله چي خلګو د امریکا غوندي د ډیموکراسۍ ستر داعي د افغان د تاریخ له مشهورو ډاکوګانو سره یو ځای په مېلو، چکر، او هواخوري کي ولیدل، د امریکا د ډیموکراسۍ او ښه حکومتوالۍ وعدې سستي او درواغجني ورته ښکاره سوې. د قانون د حاکمیت او عدالت شعارونه ئې د عامو خلګو د غولول له پاره یو چل ول او فضیحت ورته معلوم سو.
د امریکا په خبرو او عمل کي همدې بربنډ تضاد د امریکا و حیثیت او اعتبار ته سخته صدمه ورسوله. په افغانستان کي د امریکا له خوا د جنګسالارنو نصب او حمایت د شوروي د اشغال بدې ورځې، ترخې خاطرې، او خطرناکه عواقب یو ځل بیا د خلګو په ذهنونو کي را ژوندي کړل. ځکه شوروي هم د خپل لس کلن اشغال په دروان کي، جنګسالاران وروزل، قومي ملیشاووي ئې جوړي کړې او د افغانستان د قومي درزونو په پراخولو او حادولو کي ئې مستقیم رول ولوبوی. د روسانو په شان، امریکایان هم په کندهار او نور افغانستان کي د مدني او فرهنګي ټولنو د تقویه کولو پر ځای زورواک او دیموکرات ضد اشخاص او مافیایي باندونه غښتلي کوي. په بل عبارت په امریکایي دوران کي، د بنیادي موسساتو او پروژو د عملي کولو پر ځای، کوم چي د ډیموکراسۍ اساسي رکن دی، برعکس د شوروي اتحاد غوندي پر قومي او سکتوري قومندانانو باندي پانګونه کوي، هغوی پالي او حمایت ئې کوي.
بلخوا، و کندهاریانو ته دا خبره ډېر ژر ثابته سوه چي امریکا د افغانستان د آبادېدو کوم بنیادي پلان نه لري، بلکي مازي لوټه ایږدي او ګام پر اخلي. د امریکا په عمل او خبرو کي همدې څرګند تناقض د امریکا نوري وعدې او خبري هم بابېزه کړې. همدې سیاسي واقعیت ډېر ژر خلګ د امریکا په ملاتړ له نوي حکومت څخه نا امیده او ناراضه کړل. د طالبانو د بیا راژوندي کېدو او قدرتمنېدو یو عمده عامل همدا د امریکا په خبرو او عمل کي ښکاره تضاد او د بدنامو زور واکانو نصب او دوامداره سیاسي او اقتصادي ملاتړ دی. د واشنګټن همدا غلطه پالیسي به بالاخره په افغانستان کي د امریکا د مطلقي ناکامۍ باعث سي.
په هر حال د امریکا له مداخلي سره سم (۲۰۰۱)، سمدستي د کندهار پخواني وارلارډانو د امریکا تر مستقیم نظارت او حمایت لاندي په کندهار کي پر مهمو مقامونو باندي ولکه ټینګه کړه. سمدستي، د سي ای اې او سپېشل فورس ډالري قرار دادونو د همدې فاسدو زورواکانو او د هغوی د خپلوانو او یارانو جېبونه ور ډک کړل. لدې سره جوخت، د سي ای اې د همدې بېشمارو ډالرو په زور ځینو پخوانیو جنګسالارانو په کندهار کي د ځان له پاره وړې او محقرې پاچاهۍ جوړي کړې. د امریکا په پیسو ئې په لنډ وخت کي په دوبۍ کي مجلل قصرونه او جایدادونه واخیستل. په کندهار او کابل کي ئې تجارتي مارکیټونه او مانۍ رانیولې. مځکي ئې غصب کړې، او بانکونه ئې لوټ کړل. همدې اني ثروت او شهرت ځیني داسي مست او مد هوښه کړل چي سمدستي ئې د هندي فلمونو د ډاکوګانو غوندي اکټونه پیل کړل.
د امریکا همدې ناروا سخاوت، د کندهار د ښار زاړه او نوي وارلاډان او د مخدره موادو شبکې سره متحدې او منظمې کړې. او په نتیجه کي یو نوی مافیایي سیاسي نظام شکل ونیو. د همدې مافیایي سیستم انجن لا اوس هم د امریکا په پیسو او د ارګ په مستقیم سیاسي ملاتړ باندي چلېږي. لنده دا چي د امریکا د اشغال تر چتر لاندي د یوې اوږدې او تباه کونکي انارشي په بطن کي یو نوی مافیایي سیاسي سیستم حاکم سو.

---


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

د امریکا په ملاتړ د نوي مافیایي نظام لویه او خطرناکه بدي دا ده چي د همدي زورواکانو ظلم او غصب د کندهار او شاوخوا عام خلگ له وچه مجبوریته د طالبانو او نورو مذهبي افراطیانو لمنو ته اچولي دي. ځکه د کندهار مدني ټولني ویني چي په ښار کي د امریکا لوی ملګري په عین زمان کي نه یوازي ظالم او بې پروا حاکمان دي، بلکي په مختلفو نا مشروع کاروبارونو باندي هم لیګا دي. ځکه خو په سیمه کي افراطي مذهبي تمایلات زیات سوي دي. ځوانان د مدني او ملي نظریاتو په مقابل کي یو نوع غلط احساس او درک پیدا کړی دی. ملایان او طالبان پرېمانه سوي دي، او هر څه مذهبي رنګ اخیستی دی. په مقابل کي مترقي او ډیموکراتیک نظریات پیکه سوي دي. ډیموکراسي ریشخند او بدنامه سوي ده.
په آخر کي، که څه هم نن ورځ کندهار هم پوهنتون، هم راډیوګاني او هم تیلویزونونه لري، خو له بده مرغه امنیت او ښه حکومت نه لري. دردمن او متعهد سیاسي مشران نه لري. د ماموریت او ارمان خاوند لیډران نه لري، او د تېر په شان د مستقبل لپاره هیڅ پلان نه لري. نن ورځ، د امنیت او ښه حکومت نسته والی د دې باعث سوی دی چي ډېری کندهاریان دېته زړه ښه نه کړي چي پخپل پلرني ښار کي ژوند او کار وکړي. خپل اولادونه هلته وروزي، او یا هم هلته پانګه واچوي. نن سبا بد امنیت او بد حکومت د کندهار ښار له خپل عظیم بالقوه انکشاف او پرمختګ څخه محرومه کړی دی.

پای

واحد فقیري – واشنګټن
فبروري ۲۲، ۲۰۱۶
نوټ: پدې لیکنه کي له لاندي منابعو او اثارو څخه استفاده سوې ده.


۱ .عبدالحی حبیبي، د افغانستان پېښلیک.۱۹۷۱. کابل.
۲ .عبدالحی حبیبي، جنبش مشروطیت در افغانستان،۱۳۷-۱۴۶مخونه
۳.میر غلام محمد غبار، افغانستان در مسیر تاریخ.
۴ .خاطرات محمود طرزي، ګرد آورنده و نویسنده ي مقدمه: داکتر روان فرهادي.
۵ .پوهاند عبدالشکور رشاد، د کندهار یاداښتونه. ترتیب او سمون محمد معصوم هوتک.
۶ .محمد ولي ځلمی، کندهار، اول او دوهم ټوک.
۷ .میر غلام محمد غبار، افغانستان در مسیر تاریخ، دوهم جلد.
۸ .فرید میوندي، فیسبوک تبصره.
۱۱ .عبدالرحیم هاتف، اوتوبیوګرافي، مخونه ۱۵-۱۸. د لراوبر ډیجټل کتابتون.
۱۲ .محمد ولي ځلمي، ملي د استبداد او مطلقیت په مقابل کي د ځینو افغانانو ملي مبارزې. مخ ۳۳۶.
۱۳ .عبدالروف بېنوا، اوسني لیکوال.ترتیب او زیاتوني، مطیع الله روهیال.

انګلیسي اثار:

1. General Stanley McChrystal. My Share of the Task. 2013.
2. M. Hassan Kakar. Afghanistan. Berkeley. University of California Press. 1995. (pp.113-114.)
3. Alex Strick Van Linschoten and Felix Kuehn. An Enemy We Created.
4. Sarah Chayes. The Punishment of Virtue.
5. Louis Dupree. Afghanistan.




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ